**د افغانستان د ملي خبرو اترود خوځښت اعلامیه**

په منځني ختیځ کې د بشري تراژیدي په اړه

د ۲۰۲۳ زیږدیزکال د اکتوبر ۱۹ نېټه د ۱۴۰۲ لمریز کال د میزان ۲۷ نېټه

د اکتوبر په اوومه د حماس سخت دریځې ډلې د «الاقصی طوفان» په نوم د ځمکې او هوا له لارې د غزې د ترانګې پر شاوخواه ښارونو او په ورته وخت کې د اسراییلو پر ښارګوټو او د تل ابیب او عسقلان په ښارګوټو باندې ناځاپي برید وکړ. اسراییلو په ځواب کې هوايي او ځمکني بمباری وکړې او د دوارو غاړو یرغلګرو د غزې د خلکو د وژلو لامل شو. په پایله کې په زرګونو بې ګناه فلسطینیان په تېره بیا په المعمدانی روغتون کې او هم د اسراییلو ملکي وګړي د حماس د سخت دریځې ډلې او د صهیونیستي اسراییلو د حکومت د ظالمانه سیاستونو قرباني شول .

د افغانستان ملي خبرو اترو خوځښت په داسې حال کې چې د دې جګړې عاملین په کلکه غندي ، د فلسطین او اسراییلو له بې ګناه خلکو سره خپله خواخوږي څرګندوي او د ملګرو ملتونو له امنیت شورا څخه دغه غوښتنې کوي:

۱- د اړینو سیاسي فشارونو په راوړلو سره دواړه لوري د جګړې ښکېلې غاړې دې ته اړ وباسی، چه سمدستي اوربند وکړي، تر څو د بې وزلې خلکو د وژنې مخه ونیول شي.

۲- د جګړې د کرښې دوارو غاړو ته د ټپیانو او بې ځایه شویو خلکو لپاره د بشردوستانه مرستو برابرول او د نړۍ هغه هېوادونه چه د بشر دوستی له نظره د بې وزلې او مصیبت ځپلو خلکو لپاره د بشري مرستو د رسولو مسوولیت لرې،دی مسوولیت ته پاملرنه وکړي.

۳- دملګرو ملتونو امنیت شورا د فلسطین او اسراییلو د مشروع دولتونو په رسمیت پېژندلو او د منځني ختیځ د تاریخي اثارو د ساتنې او د دې 70 کلنې غمجنې جګړې او د خلکو د وژلو د پای ته رسولو لپاره له فرصت څخه باید استفاده وکی.

۴- د یو طرفه یرغل په ملاتړ کې هېوادونو غفلت او مداخله په منځني ختیځ کې د جګړې د پراخېدو لامل شوې او لوی زیان به لا پراخ شي.

**په درناوی سره**

**د افغانستان د ملي خبرو اترو د خوځښت اجراییوي بورد**